# تحلیل هفته

**ګڼه: 436**

(26 جوزا – 1 سرطان 1403 هـ ش)

## د مالیاتو معافیت او د افغانستان پر اقتصاد يې اغیزې




دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د مالیاتو معافیت او د افغانستان پر اقتصاد یې اغیزې ........ 3
- د مالیاتو معافیتونه څه دي؟ ........ 4
- د مالیاتو معافیت پلي کولو دلیلونه ........ 4
- د افغانستان پر اقتصاد د مالیاتو د معافیت مثبتې اغیزې ........ 6
- د مالیاتو د معافیت منفي اغیزې او ننګونې ........ 7
- پایله ........ 8
- وړاندیزونه ........ 9
- سرچینې ........ 10


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د مالیاتو معافیت او د افغانستان پر اقتصاد یې اغیزې

**سریزه**

د پیړیو راهیسې، مالیه د حکومتدارۍ لپاره خورا مهمه ده ځکه چې دا د عامه خدماتو چمتو کولو، زیربنا کې پانګونې، د ټولنیزو پروګرامونو ملاتړ او اقتصادي ثبات ساتلو لپاره اړیني مالي سرچینې چمتو کوي. همدارنګه، مالیه د شتمنیو په عادلانه ویش، د دولت د روڼتیا او حساب ورکونې په زیاتولو او د فساد په کمولو کې مهم رول لوبوي. د مالیاتو له موثر سیستم پرته به دولتونه د خپلو چارو د پرمخ بیولو توان ونلري، پرمختیایي پروګرامونه به په لاره نه شي اچولی او په ټولنه کې به د نظم او ثبات د ساتلو توان ونلري.

په وروستیو کلونو کې د افغانستان اقتصاد د سیاسي بې ثباتۍ، ناامنیو او اقتصادي محدودیتونو په ګډون له ګڼو ننګونو سره مخ شوی دی. په ورته وخت کې د سیاسي بدلونونو او د بهرنیو مالي مرستو په بې ساري کمښت سره د خلکو د ژوند او مصرف کچه راټیټه شوې او په پایله کې په عمومي توګه د اقتصادي فعالیتونو کچه د پام وړ کمه شوې ده. په دې حالت کې د افغانستان اسلامي امارت د سوداګرو د اتحادیو د ملاتړ او پر هغوی د مالي فشار د کمولو په موخه (د معلوماتو پر اساس د مالیې وزارت په هیواد کې 206 راجستر شوي اصناف لري) او متشبثینو د مالیاتو کمولو او د مالیاتو معافیت پالیسي پلي کړې ده. دا معافیتونه، چې د مالیې تادیه کولو لپاره د عایداتو حد لوړول او د مالیاتو کمول پکې شامل دي. په دې وروستیو کې د اسلامي امارت د مالیې وزارت د کوچنیو کاروبارونو لپاره چې مالیه هم پکې شامله ده، د عاید لږ تر لږه حد له ۱۵۰ زره افغانیو څخه ۲ میلیونه افغانیو ته لوړ کړی دی. د دغو تصدیو په عایداتو باندې چې اندازه یې له یاد شوي حد څخه زیاته وي د مالیې سلنه له ۰،۵ سلنې څخه ۰،۳ سلنې ته راټیټه شوې ده. دا پدې مانا ده چې کله یو هټیوال 3 میلیون عاید ولري، د هغه 2 میلیون عاید له مالیې څخه معاف دی او پر پاتې یو ملیون یې 0.3 سلنه مالیه وضع کیږي. باید یادونه وشي چې د 1403 کال په لومړیو کې حکومت د هټیو په لوحو او زیاتو جریمو باندې هم مالیه معاف کړې وه. د دې ترڅنګ حکومت په تېرو درېیو کلونو کې په بېلابېلو برخو کې اسانتیاوې او معافیتونه برابر کړي او عملي کړي دي.[1]

د اقتصادي پالیسۍ د یوې وسیلې په توګه د مالیاتو معافیت کمول د یو هیواد په اقتصاد پراخه اغیزه لرلای شي. دا اغیزې دواړه هم مثبت او هم منفي کیدای شي او په مختلفو فکتورونو پورې اړه لري لکه د پالیسیو د پلي کولو څرنګوالی، عمومي اقتصادي شرایط او د مالیاتو په جوړښت پورې اړه لري. په افغانستان کې، د کمزوري اقتصاد او د اقتصادي پراختیا د بیرنۍ اړتیا په پام کې نیولو سره، دا خورا مهم دی چې د هیواد په اقتصاد باندې د مالیاتو معافیت اغیزې په دقت سره وڅیړل شي.

دا تحلیل هڅه کوي چې د افغانستان په اقتصاد باندې د مالیاتو معافیت بیلابیلې اغیزې وڅیړي او دا موضوع ښه بررسي کړي، چې آیا دا معافیت د دولت مطلوب اهداف ترلاسه کولی شي او که نه؟ د دې تګلارو مثبتو



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

او منفي اغيزو ته په ژور نظر سره، موږ به هڅه وکړو چې د مالياتو معافيت اغيزمنتيا ښه کولو لپاره حل لارې او د راتلونکو پاليسيو لپاره وړانديزونه وړاندې کړو.

## د مالياتو معافيتونه څه دي؟

په ۱۳۸۷ کال کې تصويب شوی پر عايداتو د مالياتو د قانون له مخې، چې تر اوسه نافذ دی، معافيت عبارت «د عايداتو له ماليې څخه هغه کسر دی چې د دې قانون د حکمونو له مخې ورته ورکول کيږي». دغه قانون په بېلابېلو برخو کې مشخصې قضيې د معافيت په توګه يادوي، د بېلګې په توګه د دولت د عوايدو د يوولسمې مادې پر بنسټ، د دولتي شرکتونو په استثناء چې مالياتو کې نه شاملېږي، يا په لسمه ماده کې د موسسو معافيت، شپږمه ماده، د غير مقيم وګړو معافيت او همدارنګه په څوارلسمه ماده کې، د 13 مواردو يادونه شوې چې په پايله کې پر ماليه ورکولو کې شامل ندي. نورې ورته قضيې هم ذکر شوي چې د ماليې څخه معاف دي. په دې قانون کې د معافيت بله طريقه هم وړاندې شوې ده. که څه هم د اقتصادي فعاليت په پايله کې عوايد په مالياتو کې شامل دي، خو د دې مقدارونو د شاملولو لپاره يو حد په پام کې نيول شوی. د بېلګې په توګه، د حقيقي اشخاصو د ماليې په څلورمه ماده کې راغلي، چې د افرادو عايد تر ۵۰۰۰ افغانيو پورې له ماليې معاف دی او يا تر ۱۰۰۰۰ افغانيو پورې د جايدادکرايه له ماليې معاف ده. همدارنګه د ۷۵ مادې پر بنسټ، د کوچنيو تشبثاتو له ٦۰ زره افغانيو څخه کم عايد مالياتی محاسبه او ماليه نه لري. همدارنګه د افغانستان پر عايداتو د مالياتو په قانون کې ورته نورې قضيې هم ليدل کيدی شي.[2]

## د مالياتو معافيت پلي کولو دليلونه

د حکومت لوړ پوړو چارواکو په يوه غونډه کې چې په ترڅ کې يې خلکو ته د مالياتو معافيت اعلان وشو، د دغې پرېکړې مختلف لاملونه يې په ګوته کړل. د دې لاملونو له جملې څخه د اسلامي امارت د مشرتابه لخوا د خلکو د غږ اوريدل، د اسلامي امارت د رهبرۍ شفقت، د خلکو او په ځانګړې توګه سوداګرو ته د اسانتياوو رامنځته کول او د دولت له لوري د شويو ژمنو عملي کول دي.[1] البته، د پورته هر يو ذکر شوي قضيې د دې معافيتونو په پام کې نيولو لپاره ښه دليل کيدی شي، خو د سياسي دلايلو په پام کې نيولو پرته، چې تل د مالياتو د معافيت په پلي کولو کې يو لوی عامل دی، له اقتصادي پلوه، د مالياتو د معافيت مهم لاملونه چې دولتونه ورته پام کوي په لاندې ډول دي. لکه څنګه چې به وليدل شي دا معافيت به په عامو خلکو او اقتصاد باندې مثبت اغيزه ولري او تر ټولو زيات دا به په ټولنه او سوداګرو مستقيم او ستره اغيزه ولري.

### ۱- د عملياتي لګښتونو کمښت

- د مفاد زیاتوالی: د مالیاتو په کمولو یا له منځه وړلو سره به وګړي او متشبثین وکولی شي ډېره ګټه وکړي. د ګټو دا زیاتوالی دوی دې ته هڅوي چې د دوی د سوداګرۍ پراختیا لپاره ډېرې مالي سرچینې ولري.
- د سوداګرۍ پراختیا لپاره د زیاتو سرچینو تخصیص: د مالیاتو د معافیت له لارې خوندي شوې مالي سرچینې د سوداګرۍ وده، نوي محصول پراختیا، او بازارموندنې کې پانګوونې لپاره تخصیص کېدای شي.[3]

**۲- پانګونې ته هڅونه**

• په سوداګرۍ کې د پانګونې زیاتوالی: د مالیاتو معافیت کولی شي د سوداګرو او متشبثینو په سوداګرۍ کې مثبته روحیه راولي او دوی هڅوي چې په سوداګرۍ کې نوې پانګونه وکړي. لکه د نویو وسایلو اخیستل، د تولید زیاتول او د کار بهیر ښه کول.

• د کوچنیو او متوسطه متشبثینو ملاتړ: د مالیاتو د معافیت له ادرسه ترلاسه شوي مقدارونه ښايي د متشبثینو د ژوند په نورو برخو کې وکارول شي او د دوی د ژوند کیفیت ښه کړي لکه روغتیا، تعلیم او تفریح.[4]

**۳- دندو پیدا کول**

- د کاري فرصتونو زیاتوالی: د مالیاتو معافیت کولی شي له سوداګرۍ سره مرسته وکړي چې ډېر کارګران استخدام کړي. یا دا د نویو کاروبارونو د رامنځته کېدو لامل کېږي، په دواړو حالتونو کې دا معافیت د بیکارۍ د کچې د راټیټېدو او د کورنیو د عاید د زیاتوالي لامل ګرځي.
- د کاري شرایطو ښه والی: د معافیت له امله د سوداګرۍ د مالي وضعیت په ښه کېدو سره، سوداګر کولی شي د خپلو کارمندانو لپاره غوره کاري شرایط چمتو کړي، کوم چې کولی شي د کار اطمینان او تولید زیات کړي.[5]

**۴- د سیالۍ پیاوړتیا**

• بیو ټیټوالی: د مالیاتو معافیت کولی شي اصنافو ته فرصت ورکړي چې د خپلو محصولاتو او خدماتو بیې ټیټې کړي، کوم چې کولی شي د بازار تقاضا زیاته کړي او د بازار ونډه یې ښه کړي، چې په پایله کې یې د دوی عاید زیاتوي.

• د کیفیت او نوښت زیاتوالی: د خوندي شوي مالي سرچینو په کارولو سره، سوداګر کولی شي په څېړنه او پراختیا کې پانګونه وکړي، د محصولاتو او خدماتو کیفیت ښه کړي او نوښت وکړي چې کولی شي په کورنیو او نړیوالو بازارونو کې د دوی د سیالۍ وړتیا لوړولو کې مرسته وکړي.[5]

**۵- رسمي کولو ته هڅونه**

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

• د غیر رسمي اقتصاد کمول: د مالیاتو معافیت کولی شي غیر رسمي سوداګرۍ راجستر او رسمي کولو ته وهڅوي. د سوداګرۍ رسمي کول دوی ته مالي اسانتیاوو، دولتي خدماتو او لوی بازارونو ته د لاسرسي زمینه برابروي او په پایله کې د اقتصادي ودې سره مرسته کوي.

• د مالي روڼتیا زیاتوالی: د سوداګرۍ په رسمي کولو سره، مالي روڼتیا زیاتیږي او حکومت کولی شي په ښه توګه اقتصادي فعالیتونه وڅاري.

• د مالیاتو د تیښتې مخنیوی: د مالیې څخه تېښته او غیر رسمي اقتصاد ته د تګ یو د مالیاتو لوړ بار دی. دا مالیاتي معافیت کولای شی چی دا بار کم کړي او له دې ناحیه څخه د مالیاتو د تیښتې هڅونه له منځه یوسي.[4]

**٦- د مصرف او تقاضا زیاتوالی**

• د مصرف وړ عاید زیاتوالی: د مالیاتو معافیت کولی شي په ټوله کې د سوداګرو او کسب کارانو او ټولنې د مصرف وړ عاید ډیر کړي، کوم چې کولی شي د کورني توکو لپاره د غوښتنې زیاتوالي لامل شي.

• د اقتصادي څرخ په حرکت راتلل: د تقاضا زیاتوالی کولی شي په بیلابیلو سکتورونو کې تولید او پلور وهڅوي او په پایله کې د هیواد په ټولیزه اقتصادي وده کې مرسته وکړي.

## د افغانستان پر اقتصاد د مالیاتو د معافیت مثبتې اغیزې

### 1. د سوداګرو د ژوند د کچې لوړول

په افغانستان کې سوداګر د ژوند مناسب معیار نه لري او دا چې مالیه یو ډول لګښت دی، نو هر ډول مالیه چې دغه لګښت کموي، د دغو سوداګرو د ژوند کیفیت ورسره ښه کیږي. معمولاً، دوی د ناچارۍ له مخې سوداګرۍ پیل کوي او د خپلې لږې پانګې په کارولو سره چې دوی د ډیرو کلونو په اوږدو کې له ډیرو ستونزو سره راټول کړې یا له چا څخه پور اخیستی او سوداګري یې پرې شروع کړې ده او د لږ عاید سره خپل ژوند تیروي. د متشبثینو د دې ډلې لپاره، د مالیاتو معافیت د خپلو اوږو څخه د لګښتونو د بار کمولو معنی لري او دوی کولی شي دا سرچینې د خپل کوچني سوداګرۍ پانګې ته وراضافه کړي یا په بل ځای کې چې اړین وي مصرف کړي، په ځینو مواردو کې لکه د ځان او کورنۍ تعلیم او روغتیا. ځینو برخو کې د مالیاتو معافیت د توکو قیمتونو کمولو سره مرسته کوي او کیدی شي عام خلک هم کولی شي د دې مثبت اغیزو څخه ګټه پورته کړي. دا ځکه چې سوداګر عموما مالیه د توکو په لومړي قیمت کی ور اضافه کوي.

### 2. د کمیت او کیفیت له پلوه د سوداګرۍ پراخوالی او بهبود او اقتصادي وده



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

په داسې یو حالت کې چې د افغانستان اقتصادي وضعیت مناسب نه وي او د بیکارۍ کچه لوړه وي، د معافیت په شمول د مالیاتو معافیت هڅونه کولی شي د سوداګرۍ وده او پرمختګ دواړه په کمیت او کیفیت کې ښه کړي. داسې چې، ټیټه مالیه د نویو تصدیو رامنځته کول هڅوي او په اقتصاد کې د نویو سوداګرۍ رامنځته کولو هڅونه زیاتوي. البته دا مسله یوازې د مالیې له معافیت سره تړاو نه لري، بلکې له نورو عواملو سره هم تړاو لري، لکه څنګه چې د تېر حکومت چاراوکي او کارکوونکي له دولتي دندو لیرې شوي او کوچنیو او منځنیو تشبثاتو ته یې مخه کړې ده. له بلې خوا، د مالیاتو د معافیت له امله د لګښتونو کمښت د سوداګرۍ پراختیا، د کاري بهیرونو ښه والی، نوښت او د نویو توکو او خدماتو معرفي کولو لامل کیږي او دا د کار ځواک د جذب او د کار د کچې د لوړولو لپاره زمینه برابروي. د دندو په رامنځته کولو سره د ټولنې د عاید کچه لوړیږي او په ورته وخت کې په اقتصاد کې د مصرف کچه هم لوړیږي. دا پدې مانا ده چې د مالیاتو معافیت کولی شي په ورته وخت کې په بازار کې عرضه او تقاضا دواړه زیات کړي. د عرضې او تقاضا زیاتوالی د پانګونې کچه لوړوي او پدې توګه اقتصاد وده کوي.

**3. د مالیاتو د تیښتې مخنیوی او د رسمي اقتصاد پراخول**

د افغانستان په څېر په مخ پر ودې هېوادونو کې د مالیې د نه ورکړې او د مالیې په ورکولو کې تېښته یو لامل پر کوچنیو، ورو تصدیو د درنو مالیاتو لګول دي. د وخت په تیریدو سره، ملاماتونکي او غیر معقول مالیات یا د کوچنې سوداګرۍ د سقوط لامل کیږي یا دوی مجبوروي چې له مالیاتو څخه ډډه وکړي. همدارنګه، د مالیاتو لوړه کچه سوداګر مجبوروي چې د جوازونو ترلاسه کولو یا نوي کولو پرته په غیر رسمي توګه خپل فعالیتونه دوام وکړي. دا حالت د غیر رسمي اقتصاد د پراختیا لامل کیږي، کوم چې یوه جدي ستونزه ده او په اقتصاد باندې د نه جبرانېدونکي اغیزې پریږدي. له یوې خوا، دا یو ډول ستونزې رامنځته کوي لکه بانکي خدماتو ته او بازارونو ته د لاسرسي نشتوالی او د سوداګرۍ لپاره عالي فرصتونه. له بلې خوا، دا به د دولت لپاره ستونزمن او ګران وي چې د دې تصدیو څارنه وکړي او دا به د مالیاتو څخه د تېښتې له امله د دولت عواید کم کړي. د مالیاتو معافیت او د مالیاتو معقول تعیین د مالیې څخه د تېښتې مخه نیسي او خلک هڅوي چې جواز ترلاسه کړي او قانوني سوداګرۍ رامینځته کړي.

## د مالیاتو د معافیت منفي اغیزې او ننګونې

**د دولت د عوایدو کمښت:** مالیه د ورکوونکي لپاره مصرف او ترلاسه کونکي یعنی دولت لپاره عاید ګڼل کیږي. مالیات د دولت د عوایدو یوه مهمه او اساسي سرچینه ده، چې د نړیوال بانک د راپور له مخې دا د اسلامي امارت د ټولو عوایدو ۱۲ سلنه جوړوي. [6]د اعلان شوي مالیاتو معافیت د دولت د عاید کچه راټیټوي او په داسې حالت کې چې د حکومت لاسونه د نړیوالو مرستو څخه کم دي او د افغانستان اقتصاد په خراب حالت کې دی، دا کولی شي حکومت وننګوي او د دولت د بودیجې کسر زیات کړي. دا پدې مانا



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ده چې دا په بالقوه توګه د پرمختیایي پروژو، تعلیم، روغتیا او نورو حیاتي سکتورونو په ګډون په مختلفو مواردو کې د دولت په فعالیتونو او د هغې په خدماتو منفي اغیزه کولی شي. دا مسله ممکن د خلکو د ناخوښۍ د کچې د لوړیدو لامل شي او د هیواد په کچه د اعلان شوي مالیې معافیت مثبتې اغیزې خنثی او له منځه یوسي.

**د مالیې بې عدالتي:** د مالیې غوره معافیت هغه دی چې هرڅوک ترې ګټه پورته کوي. تر څو کله چې د اقتصاد د یوې برخې فعالین له دې څخه ګټه پورته کړي، نور تر ډېر فشار لاندې رانه شي یا د لومړۍ ډلې د معافیت په پایله کې د کسر بار په غاړه واخلي. که نه نو، معافیت به د عدالت له اصولو سره په ټکر کې وي چې د حکومت لخوا پلي کیږي. که څه هم متشبثینو او کوچنیو سوداګرو ته د دوی په سوداګرۍ کې د مالیې معافیت ورکول کیږي، مګر حکومت د بودیجې د کسر د جبرانولو لپاره، د جواز اخیستلو، د روغتیا او تعلیمي خدماتو د وړاندې کولو او د مالیاتو د ورکولو په وخت کې د پیچلو سیسټمونه او د وخت ضایع کول، او نور شرایط ولګوي دا به د معافیت اغیزمنتوب خنثي کړي او ځینو لپاره به داسې ښکاري چې دا معافیت یوازې د دولت لخوا په نورو سکتورونو کې د مالیاتو او فیسونو زیاتوالي پټولو یا عادي کولو لپاره اخیستل شوي. داسې چې لیدل کېږي په بېلابېلو ځانګو کې لکه د ښوونځي سند، د پوهنتون ډیپلوم، تذکره، د نکاح سند او د بهرنیو چارو وزارت له خوا د دې اسنادو تصدیق او نورو ځانګو کې فیسونه ډېر لوړ شوي او دا په دې مانا ده چې د مالیاتو بار د نورو په پرتله د ټولنې پر هغه برخې چې تر ټولو بې وزله طبقې وي، اچول شوي دي.

**اوږدمهاله منفي اغیزې:** که څه هم د مالیاتو معافیت د اقتصادي ودې د هڅولو او د کوچنیو سوداګریو او متشبثینو د ملاتړ لپاره د لنډ مهاله وسیلو په توګه ګټور کیدی شي، خو که په اوږد مهال کې په سمه توګه اداره نشي کولی شي د افغانستان په اقتصاد جدي منفي اغیزې ولري. په دې اغیزو کې د دولتي عوایدو کمیدل شامل دي (لکه څنګه چې په پورته برخه کې تشریح شوي). د عوایدو د کمښت په پایله کې، په مهمو سکتورونو لکه ښوونه او روزنه او ترانسپورت کې د دولت پانګونه کمه شوې، چې کولی شي د عامه خدماتو وړاندې کولو کې د کمیت او کیفیت له پلوه د پام وړ منفي اغیزې ولري. د مالیاتو د معافیت ضعیف مدیریت او د مالیاتو په سیسټم کې د تبعیض شتون په صورت کې چې د سوداګرۍ اتحادیې او حکومت ته نږدې ډلو لخوا د لابی کولو یا د مالیې کلتور ضعیف کیدو لخوا اغیزمن کیږي، په هغه حالت کې چې لوی یا متوسط مالیه ورکوونکي احساس کوي چې معافیتونه غیر عادلانه دي او دا د دوی لپاره نه دي یا دا چې دا معافیت په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د مالیاتو لوړ بوج پر دوی تحمیل کړي، چې د مالیاتو د ورکولو څخه تېښته، د غیر رسمي اقتصاد پراختیا او د نا رضایتۍ او بې عدالتۍ د زیاتوالی باعث کیږی، چې دا ټول د افغانستان د پایداره پراختیا مخه نیسي او د مالیاتو د سیسټم پیچلتیا زیاتوي.

## پایله

د مالیاتو د معافیت د اسانتیاوو د وړاندې کولو په دوام، اوس چې د افغانستان اسلامي امارت د سوداګرو او اصنافو د عایداتو حد چې د مالیې له مخې له ۱۵۰ زره افغانیو څخه ۲ میلیونو افغانیو ته لوړ شوی او له دې څخه پورته د مالیاتو د ورکړې سلنه یې له 0.5٪ څخه 0.3٪ ته راټیټه کړې او ټاکل شوې چې دا موضوع له 1403 کال حمل د میاشتې له لومړۍ نېټې څخه پلې شي.

د معافیت دغه کټګوري د افغانستان پر اقتصاد مثبت او منفي اغیزې لري. د بېلګې په توګه، دا کولی شي د متشبثینو او سوداګرو د ژوند کچه ښه کړي ځکه چې د مصرف اضافي بار د دوی اوږو څخه لیرې کېږي. همدارنګه، د مالیاتو د معافیت له امله د مصرف کمښت او د دوارو کمیت او د کیفیت له نظره د سوداګرۍ پراختیا او پرمختګ لامل کېږي او په عمومي توګه د اقتصادي ودې لامل کېږي. تر څو دغه سوداګر وکولای شي چې له مالیې څخه معاف شوې پیسې په خپل کاروبار کې ولګوي او خپلې سوداګرۍ ته پراختیا ورکړي او یا یې په نورو ځایونو کې وکاروي، چې په لومړي صورت کې په اقتصاد کې عرضه او روزګار زیاتېږي او په دوهم صورت کې عرضه او تقاضا زیاتیږي. د عرضې او تقاضا په وخت کې اقتصادي وده ترلاسه کېږي. همدارنګه، د مالیاتو معافیت کولی شي د سوداګرۍ مالکین وهڅوي چې په خپل وخت مالیه ورکړي او جواز ترلاسه کړي او رسمي اقتصاد ته مخه کړي.

له بلې خوا، مالیاتي معافیت کولی شي په اقتصاد او ټولنه منفي اغیزه ولري. د بېلګې په توګه، دا به د دولت عواید کم کړي او د بودیجې کسر به زیات کړي. دا د دولت بنسټیز فعالیتونه ګډوډوي او د بودیجې د نشتوالي لامل کېږي. سربېره پردې، دا کولی شي په غیر عادلانه توګه د یوې ډلې له اوږو څخه د مالیاتو بار او مالي فشار لرې کړي او د نورو ډلو په اوږو که مالیه ورکوونکي یا عام خلک وي کېږدي. دا د نا رضایتۍ لامل کېږي او په حکومت باندې د ملت باور کموي. همدارنګه، معافیت کولی شي په اقتصاد باندې اوږدمهاله منفي اغیزې ولري، لکه د دولت د عوایدو کمول، نابرابرۍ، او د مالیاتو کلتور کمزورۍ کول.

## وړاندیزونه

1. د دې منفي اغیزو د مخنیوي لپاره، حکومت باید د مالیاتو معافیت په احتیاط سره پلان او اداره کړي او په منظمه توګه د دې اغیزې ارزونه وکړي ترڅو د بې عدالتۍ او اوږدمهاله ستونزو د رامنځته کېدو مخه ونیسي.
2. اصل دا دی چې دولت خپل عاید له داسې لارو څخه ترلاسه کړي چې په عامو خلکو او په ځانګړې توګه غریبه طبقه باندې لږ فشار راوړي. که غواړي چې مالیه زیاته کړي، باید په منطقي ډول سره عامو خلکو ته د هغې دلایل وړاندې کړي، له ښکېلو ډلو او کارپوهانو سره مشوره وکړي او د کمښت او معافیت په صورت کې دې د معافیت له امله د عاید د کمښت د پوره کولو لپاره بدیلې سرچینې اعلان کړي. دا ډول د روڼتیا، مشورې، رضایت او څارنې لپاره د خوښې وړ ساحې دي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

3. که څه هم د دولت په مجموعي عوایدو کې د کوچنیو کاروبارونو او تولنو ونډه کمه ده، خو وړاندیز کیږي چې حکومت دې د مالیې په عایداتو کې د کموالي د جبرانولو لپاره په غیر مالیاتي عوایدو لکه د کانونو په عوایدو تکیه وکړي. په هغه تولو مالیاتو او غیر مالیاتي عوایدو باندې تکیه کولو څخه دې ډډه وکړي، کوم چې د ورځې په پای کې باید د عامو خلکو، په ځانګړې توګه د بې وزلو لخوا تادیه شي.[7]
4. ورکړل شوی معافیت تطبیق شي او د هغې د تطبیق څخه په سمه توګه نظارت وشي. د هغو کسانو سره چې د معافیت څخه ناوړه ګټه پورته کوي او د مالیاتو د ورکړې څخه تېښته کوي قانوني معامله وکړي او د غیر رسمي اقتصاد مخه ونیسي. د مالیاتی معافیت د تطبیق اغیزې باید د توکو په نرخونو کې ولیدل شي ترڅو وښیي چې تول خلک ترې ګټه پورته کړي.[7]
5. علمي نهادونه د هغې مثبت او منفي اغیزې په علمي او مستند ډول وڅیړلې ترڅو پایلې یې په راتلونکو پالیسیو کې وکارول شي.

## سرچیني


1. https://www.youtube.com/watch?v=gdCL2zGa2v4
2. https://mof.gov.af/sites/default/files/2019-02/%D8%AA%D8%B9%D9%84%DB%8C%D9%85%D8%A7%D8%AA%D9%86%D8%A7%D9%85%D9%87%20%D9%82%D8%A7%D9%86%D9%88%D9%86%20%D9%85%D8%A7%D9%84%DB%8C%D8%A7%D8%AA%20%D8%A8%D8%B1%20%D8%B9%D8%A7%DB%8C%D8%AF%D8%A7%D8%AA%20%282%29.pdf
3. Hosono, K., Hotei, M., & Miyakawa, D. (2023). Causal effects of a tax incentive on SME capital investment. *Small Business Economics, 61*(2), 539-557.
4. https://alvandhesaban.com/what-is-a-tax-exemption/
5. Harju, J., & Kosonen, T. (2012). *The impact of tax incentives on the economic activity of entrepreneurs* (No. w18442). National Bureau of Economic Research.
6. https://thedocs.worldbank.org/en/doc/892ff644f4cc53304fa51c414ab25b1f-0310012024/original/Afghanistan-Economic-Monitor-February-2024.pdf


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سايت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +93780618000

+93780618000